مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۵/۱۱/۱۷

همدا يې وخت دی کنه

دقيق راته نه دي ياد؛فاروق خان لغاري او که غلام اسحاق خان، پر پاکستان راج چلاوه. کابل کي دا مهال رباني د تش په نوم واک، پر ګدۍ ناست و. رباني، هره ورځ د همدې واک د بقاء لپاره او حريفانو يې بيا د همدې واک د خپلولو لپاره د کابل ښاريانو سلګونو ککړي پرې کولې او وطن يې رنګاوه .
همدا مهال د يونس قانوني تر مشرۍ يو پلاوی اسلام آباد ته تللی و. په مجلس کي کوربه ولسمشر ورته ويلي و چې په پښتو به خبرې وکړو، ستاسو د ملک ملي ژبه ده. خو د رباني په تعصب ککړ پلاوي ورته ويلي و : نه، پشتو زبان مردم خانه بدوش است! په انګريزي به وغږيږو .
مجلس په انګريزي شروع شوی و؛ خو دوی په انګريزي هم سم نپوهيدل چې په شرمونو شرميدلي وو چې د هغه وخت يوه اخبار پرې ليکنه هم کړې وه.
خبره دا ده چې متاسفانه، له پښتو سره په ډېره لوړه کچه له پخوا تعصب موجود و.
ډاکټر محمد شريف ځدران، (د شپارسمي پيړۍ په پيل کي د پښتنو سياسي، اقتصادي او کلتوري حالت)
تاريخي کتاب کي د پښتون سلطان په وړاندې، د پښتو مسخره کولو يو عجيب روايت ذکر کړی دی:
هندوستان کي د لودیانو د کورنۍ غړی بهلول لودي[۱۴۸۹م، مړ] چې د واکمنۍ په لومړۍ اونۍ کي د جمعې لمانځه ته لاړو، نو قادان ملا خطبي ويلو ته راپورته شو او بيا يي د همدې پښتون واکمن په موجوديت کي په فارسي وويل:
"سبحان الله، عجيب قوم پيدا شوی دی او د دوی ژبه داسي ده چې مادر ته مور، برادر ته ورور... سياه ته تور او ديګران ته نور وايي ".
د دغې وينا سره سم سلطان بهلول دسمال پر خوله کېښود او په موسکا سره يې ورته وويل: "ملا قادان! بس کړه چې مورِ هم د خداى ج بندګان يوو"
وګورئ، د يوه پښتون واکمن له دښتي پراخي سيني او حوصلي ته.
سره له دې چې پښتانه د دې وطن اکثريت دي؛ خو ژبه يې تر خپلو کورنيو محدوده ده.
همدا اوس د کابل ښار په ګڼو دولتي او خصوصي، ښوونځيو او تعليمي مرکزونو کي ،چې آن نيمايي برخه يې پښتانه شاګردان وي، تدريس په دري کي وي، پښتانه زدکوونکي په خپله مورنۍ ژبه له تدريس محروم دي . حتا خپله ځينې پښتانه استاذان هم د خداى په غضب ککړ دي او په خپله ژبه تدريس نکوي .
خبره دا ده چې زه به هيڅکله دا و نه وايم چې نورې ژبې دې سپکې وګڼل شي. ځکه زه مسلمان يم او عقيده لرم چې ټولې ژبې د الله ج د قدرت نښې دي:
"وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ"
او ماته ټولې ژبې، په ځانګړې توګه د خپل وطن ژبې، ډېرې ګراني دي.
البته دا ضرور وايم چې ټولې ژبې درنې وګڼئ
خو د خپلې ژبې، بې قدري هم مکوئ؛ ځکه د چا چې ژبه بې قدره شي؛ نو هغه قام هم بې قدره کيږي.
پښتو ژبه لر ده او که بر ده په رسمياتو کي له ګوابنونو سره مخ ده او مورِ پښتانه متاسفانه خپلې ژبې ته څومره چې په کار ده، اهميت نه ور کوو.
هيله ده ډېر ژر دا ستونزه درک او يو ترتيب ورته برابر شي. کابل ښار کي بايد په هر تعليمي مرکز کي حد اقل نيمايي تدريس په پښتو جبري شي. په دې کار به له يوې خوا د پښتنو حق خوندي شي او له بلې خوا به د نورو ژبو ويوونکي هم پښتو زده کړي.
دوی چې انګريزي، اردو، عربي ... زده کولای شي، پښتو هم زده کولای سي؛ خو چې نه يې زده کوي علت يې دا دی چې اهميت نه ورکوي او په دې کار کي مورِ هم ښه سم پېره يوو.
ښه، دا کار به کله کيږي؟
چې خداى مکړه پدرام، منصور، خليلي، اسماعيل خان او... واک ترلاسه کړي؟؟؟
خو،
همدا يې وخت دی کنه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورِ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ